Philip D. Murphy
والي
Tahesha L. Way
مرستیال والي
د نیو جرسي ایالت

NJ FAMILYCARE

ارزانه بیمه روغتیایي مرستي. کیفیت ته پاملرنه.

## هغه ماشومان او ځوانان چې عمرونه یې تر 65 کلونو ټیټ وي

NJ FamilyCare د NJ د اوسېدونکو لپاره د عامه تمویل روغتیایي خدمات دي. دغه خدماتي اداره وړیا یا په ټیټه بیه با کیفیته روغتیایي پاملرنه چمتو کوي. NJ د کورنۍ پالنې په پروګرام کې CHIP، طبي مرسته (Medicaid) د طبي مرستو پراخ وګړي شامل دي.

### کوم موارد تر پوښښ لاندې نیول شوي؟

NJ FamilyCare د هغو روغتیایي طرحو په چاوکاټ کې بشپړ روغتیایي خدمات وړاندې کوي چې د دولت لخوا یې تړون شوی.
NJ FamilyCare د لاندې مواردو په ګډون ډېری د روغتیاپانې د برخې اړتیاوې تر پوښښ لاندې نیسي:

- ډاکټر ته مراجعې
- نسخې/درمل
- د لابراتوار ټېسټونه/آزموینې
- اکسرې
- بستر
- د غاښونو روغتیایي خدمات
- عینکې
- د رواني روغتیا خدمات
- متخصص ډاکټرانو ته مراجعه
- د اوتیزم خدمات
- د ټولنې دوولا خدمات
- د شخصي پالنې د اړتیاو په برخه کې مرسته

### کوم کسان په شرائطو برابر دي:

په NJ کې اوسېدونکي د هر عمر خلک کېدی شي د NJ کورنۍ پالنې لپاره په شرائطو برابر واوسي. پدې کې ماشومان، والدېن، پالونکو پورې اړونده کسان، او هغه ځوانان چې پالنې ته اړه ماشومان لري. دغو خدماتو ته په شرائطو برابروالی د فرد د عائد او د کورنۍ د غړیو د تعداد له مخې چې فدرالي ادارې ته د متقاضي د مالیاتو په وروستي راپور کې درج دی، له مخې کیږي. پدې توګه، NJ FamilyCare کولای شي له نورو منابعو لکه د تادیه کېدونکو معاشاتو څخه د معلوماتو د تائید په موخه استفاده وکړي. د عائداتو له مخې مستحقیت د ماشومانو لپاره د ځوانانو تر هغې لوړ دی. (چارټ ته مراجعه وکړئ)

**تر ټولو لوړ میاشتنی عائد**
**د 2024 کال د جنورۍ میاشتې له 1ۍ نېټې راپدېخوا**

*د کورنۍ د غړیو شمېر او میاشتني عواید راپور شوي*
*د مالیاتو ادارې ته رپوټ شوی میاشتنی عائد*

| د کورنۍ د غړیو تعداد | ماشومان *(تر 19 کلونو ټیټ)* | والدېن او مجرد ځوانان (چې عمرونه یې د 19 او د 64 کلونو ترمنځ وي) | امېندواره ښځه *(د هر عمر لرونکې)* |
|---|---|---|---|
| 1 | 4,456 $ | 1,732 $ | 2,573 $ |
| 2 | 6,047 $ | 2,351 $ | 3,492 $ |
| 3 | 7,639 $ | 2,970 $ | 4,411 $ |
| 4 | 9,230 $ | 3,588 $ | 5,330 $ |
| 5 | 10,822 $ | 4,207 $ | 6,250 $ |
| 6 | 12,414 $ | 4,826 $ | 7,169 $ |
| د کورنۍ هر بالغ غړی | 1,592 $ | 619 $ | 920 $ |

* ستاسو د کورنۍ تعین کېدی شي داسې وشي چې د ټولو والدېنو، پالونکواو ټولو هغو ماشومانو د شمېر له مخې وشي چې عمرونه یې تر 21 کلونو ټیټ او په خپله سیمه کې مالیاتو یا مرستې ته اړتیا لري.

### څومره مصارف لري؟

د ډېرى خلکو لپاره د NJ FamilyCare هېڅ مصارف نه لري.

د هغو کورنیو لپاره چې لوړ عائد او ماشومان لري، د نورو تادیاتو په بر خه کې یو مقیاس شتون لري.

### آیا هلته کوم محدودیتونه شتون لري؟

د 19 کلنۍ کم عمر لرونکي ماشومان پرته د خپل کډوالۍ د دریځ د NJ FamilyCare، لپاره وړتیا لري. په قانوني توګه شتون لرونکې امېندوارې مېرمنې پرته له هغه نېټې چې دوی متحده ایالتو ته راغلل، وړتیا لري. په ټولیز ډول، لویان کډوال باید په متحده ایالتو کې لږ تر لږه تر پنځه کلونو پورې قانوني تلپاتې استوګنیز دریځ ولري ترڅو د NJ FamilyCare دپاره وړتیا ولري. ځینې لویان کډوال پرته له هغه نېټې چې دوی متحده ایالتو ته راغلل، وړتیا لري که چیرې دوی په قانون توګه راغلي وي. بې‌لګې یې کډوال، پنا غوښتونکي او نور هم دي. 19 کلني او 20 کلني کډوال چې په قانوني توګه راغلي وي او عایدات یې ډېر ټیټ وي وړتیا لرلی شي.

### څنګه کولای شئ نور معلومات پیدا کړئ؟

د دې لپاره چې پوه شئ آیا په شرائطو برابر یئ، او یا هم که نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ، زنګ ووهئ یا زموږ وېبپانه وګورئ.

## 1-800-701-0710 (TTY: 711)

(په ګڼو ژبو ځواب ویونکي مو په خدمت کې دي)

## په آنلاین ډول غوښتنه وکړئ!

## www.njfamilycare.org

NJ FamilyCare د فدرالي ادارې د نافذه مدني قوانینو مطابق فعالیت کوي او نژاد، رنګ، قوم، جنس، عمر یا معلولیت ته اهمیت قائله نه ده. که چیرې تاسو **په کومه بله ژبه** خبرې کوئ، نو ستاسو لپاره وړیا د ژبې یا ژباړې خدمات شتون لري. 1-800-701-0710 (TTY: ته زنګ ووهئ: 711).